# د ملاکنډ ډويژن د ښادۍ په دود دستور د جديديت اثرات

Mohammad Habib*

Mazhar Ahmad †

**ABSTRACT**

*Like other aspects of life, tradition has been and has been influenced by modernity. If you look at the traditional bridge of any place, you will see the effects of modernity. In addition to other places, the tradition of Malakand division has also been influenced by modernity. Whether it is the custom of sadness or happiness of this place. In this research paper, I have presented a study on the effects of modernization on the customs of happiness in Malakand Division*

د هر ځائې او هرې علاقې د غم او ښادۍ خپل خپل خاص رسمونه او رواجونه وي، او دا هر څۀ د دوي د ثقافت برخه وي ــ او کله کله ئې د پېژندګلو باعث هم وګرځي ــ هسې خو ضلع ملاکنډ يوه ډېره لويه او پراخه علاقه ده، خو زياتره په کښې پښتانۀ ژوند کوي او د دوي د ژوند طور طريقې د ځايونو په نسبت د څۀ لږ ډېر توپير نه علاوه تقريباً يو شان دي ـ که مونږ د ژوند کوم اړخ پله هم غور وکړو نو د روايت په ځائې په کښې جديديت د وخت د يون سره رامنځ ته کېږي، او د ژوند يو اړخ ئې هم د اثر نه بچ نۀ پاتي کېږي ـ په دغه بدلون د بحث نه وړاندې غواړم چې د جديديت او جدت په حقله لږه خبره واضحه کړم ـ

هســې خو جديديت په مغرب او بيا په مشــرق کښــې د يو تحريک په توګه هم پېژندلے شــي، دغه تحريک خپل خاص خصوصيات او ځانګړنې لري او بنيادي مرکز ئې د مغرب خاوره ده چې د خاصو حالاتو له مخۀ ئې نوغے کړے دے او بيا ئې مشرق ته هم لار سمه شوې ده ــ او بيا د دغه تحريک پرضد يو بل تحريک د مابعد جديديت په نوم هم راپورته شوے دے ــ خو جديديت د يو تحريک نه علاوه د جدت په معنو کښې هم استعمالېږي ـ لفظ جديديت که مونږه د تحريک نه علاوه زير غور راولو نو دا په اصل کښې د لفظ "جدت " نه ماخوذ دے چې مطلب ئې نوے والے او تازګي ده ـ

"جدت انفرادیت کا نام ہے یعنی اگر کسی شاعر کے ہاں پرانی ڈگر سے ہٹ کر موضوعاتی سطح پر، فکری سطح پر یا اسلوب یعنی زبان بیان کی سطح پر کوئی نئی چیز موجود ہے تو اس کو ہم جدت کا نام دیں گے کہ فلاں شاعر کے ہاں جدت کے عناصر موجود ہیں

* PHD Scholar Department of Pashto University of Malakand
† Assistant Professor, Department of Pashto University of Malakand

1

او دغه شان ځومره پورې چې لغتونو دي نو جديديت په کښې د يو تحريک نه علاوه د جدت په معنو کښې معرفي شوے دے، ريخته ډکشنري د جديديت معنې داسې ښائي:

"جدیدی کا اسم کیفیت، نیاپن ہونا، نیاانداز فکر اور نئی روشن اختیار کرنا"

2

خبره واضحه شوه چې جديديت د يو تحريک نه علاوه د بدلون او نوي والي په معنو کښې استعمالېدونکے لفظ هم دے۔ که د نړۍ په کومه خطه کښې خلق ژوند کوي خو هغه به د وخت سره سره نوي نوي ځيزونه د ژوند برخه کوي، او د ژوند په مختلفو اړخونو کښې به ئې جدت او نوے والے راځي۔ دا هر ځهٔ د وخت د تګ سره رامنځ ته کېږي او په نورو لفظونو کښې ورته عصري ضرورتونه يا تقاضې هم وئيلے شي۔ که مونږه د رسمونو رواجونو نه علاوه ادب ته زېر شو هم په کښې جدت او نوے والے په غزونو دے ـــ نوي نوي فکرونه او اصناف د وخت وخت سره رامخې ته کېږي ـــ او د جدت او بدلون قائل خو انسان د پخوا نه دے په دې وجه د دغه بدلون سره د اختلاف په ځائې خلق ئې په حق کښې وي، او دا هر ځهٔ د وخت ضرورت، نوي رجحانا ت او ښکلا ګڼي ـــ ځنګه چې په ادب کښې نوي نوي رجحانات د وخت سره مخې ته راځي دغه شان حال د بېلابېلو رسمونو رواجونو او طور طريقو هم دے۔ که مونږه د کوم يو قام او کومې سيمې رسمونو او دودونو دستورونو ته اوګورو نو بدلون په کښې بربښي خواه که د غمونو دستورونه دي او که د ښادو ـــ د خوراک څښاک او پوشاک نه علاوه په رويو او خويونو او خصلتونو کښې هم نوے والے راځي ـــ ځنګه چې د ژوند نور اړخونه بدلېږي، دغه شان د وخت سره کړه وړه، ناستې ولاړې، ژوند او روايات هم بدلېږي ـــ که د لرغوني وخت د پښتون قام د ژوند معيار ته وکتے شي نو هغه يو شان دے او که په روان وخت کښې ورته نظر اوکړو نو ډېر نوے والے په کښې راغلے دے۔ دغه بدلون کله کله په مودو پس رامنځ ته کېږي او کله کله لکه د موسمونو زر زر هم منځ ته راتلے شي او د روايت په ځائې په نوي رنګ او ډول کښې معرفي کېدے او مستعمل کېدے شي۔

د هر ځائې او هر قام د ژوند کولو څهٔ خاص طور طريقې، رسمونه رواجونه او د ژوند کولو لارې چارې وي ـــ خواه هغه که د غم وي او که د ښادۍ ـــ او دغه کلهم اړخونه د وخت وخت سره بدلون خپلوي ـــ د نورو اړخونو نه علاوه که مونږه د پوشاک په لور نظر وکړو نو هم په کښې د وخت وخت سره بدلون راځي ـــ او بيا د پخوا په نسبت په نن وخت کښې خو دغه اړخ ډېر جديد دے ـــ که پخوا د پوشاک کمے وهٔ، او خلقو به خاص لباس نهٔ وهٔ، نو چې کله بيا د جدت او عصري تقاضو سره سم د ژوند برخه شوه نو بيا پښتنو نارينهٔ د

لباس خاص رنګ به خړ ؤ ــ او دا نور شوخ شوخ رنګونه به د زنانؤ رنګونه ګڼلے شو ــ او په دې نورو رنګونو لباس کولو به دوي ته ځان بدې هم ښکارېدو۔ اباسین یوسفزي د پښتنو نارینؤ خړ لباس داسې یاد کړے دے:

"کــه زنــانــه ئــې نــو رنــګــونــه ګــوره
کــه نــاریــنــه ئــې جــامــه خــړه کــوه"[3]

خو اوس دغه خړ رنګ د پښــتنو نارینو پورې محدود پاتې نۀ دے، مختلف لباســونه په مختلفو ډولونو د دوي لباس دے ــ دغه شان پخوا به د پښتنو دا رواج ؤ چې دوي به اوږدې جامې کولې ، که هغۀ به زنانه وې او که نارینه وو خو اوس په دغه اړخ کښې هم بدلون راغلے دے او د زنانؤ په لباس کښې خو د ورځو په حساب سره بدلون راځي، کله يو ډول معیار ګرځي او کله بل او ځوک ئې بد هم نۀ ګڼي ــ د نارینؤ په لباس کښې جدت ته ډاکټر اقبال شاکر داسې اشاره کړې ده:

"اوســنــو جونــو پــه خــپــل ځــان داســې کــانــې کــړې دي
لــکــه چــې مشـــره خــور د کشـــرې خــور جــامــې واغــونــدي"[4]

دغه شــان حال د پښــتنو د ښــادۍ د رســمونو او رواجونو دے ــ د پښــتنو په قبیله کښــې د ښــادۍ مختلفې دستورې نمانځلے شي لکه سنت، کوږدن، وادۀ، اختر، شوقدر او داسې نور ډېر ــ خو که مونږه د پښتنو د لرغوني وخت د دغه دستورونو مطالعه وکړو او بیا په روان وخت کښــې ورته زیر شــو نو ډېر بدلون په کښې راغلے دے ــ هم هغه شان دا رسمونه نمانځلے شي خو نوې نوې طریقې او لارې چارې په کښې ځائې دي ــ پښــتانۀ د تاریخ له رویه د پښــتو او اســلام دواړو ســره ډېر تړلي روان دي، بلکې پښــتو پښــتونولي له اسلامه عبارت ګڼي، لکه څنګه چې ډاکټر علي خېل دریاب وائي:

"پښــتــو پښـــتــونــولــي دي لــه اســـلامــه عــبــارت دي
پښـــتــونــه! بــلــه کــومــه صـــحــیــفــه بــه درلــه راوړم"[5]

هغه بېله خبره ده چې کله کله دوي پښتو په اسلام زوره وره ګڼي۔ خو چې څومره هم اسلامي رویات راراوان دي نو دوي ئې ډېر په احترام سره پاسداري کوي ــ په دغو کښې ځینې د خوشحالۍ موقعې دي او ځینې د خفګان یعنې د غم دســتورې دي ـــ اختر شــوقدر چې مذهبي کچ باندې ئې هم پښــتانۀ ډېر زیات تسلیموي او د پښتني اقدارو برخه ئې هم ګڼي ــ او دا روایات ډېر په ښکلې طریقه د وخت د سر نه پښتانۀ نمانځي۔ اختر او شوقدر دواړه بېلې دستورې او موقعې دي خو روایتاً د دواړو تذکره په یو ځائې کولے شي۔

اختر شوقدر د دوي د ژوند يوه ډېره لازمي برخه وه او دا روايت لا دوامدار دے ــ دا د خوشحالۍ يوه موقع وي، په دې کښې خوښدې خورلنې هم راوستے شي ــ او ډېر په احترام دا موقع نمانځلے شي ــ فرهاد وسيم يوسفزے ليکي:

"اخترشــوقدر زمونږ مذهبي دســتورې دي چې پښـتانۀ ئې ډېر په اهتمام ، ذوق، شـوق او جوش سره لمانځي ــ دا هم په ليک لوست کښې يو ځائې ليکلے شي او وئيلے خو دودونه جدا جدا دي ــ دواړه د خوشحالو لمانځلو دستورې دي ــ په خصوصي توګه د ماشومانو د خوشحالو لمانځلو موقعې وي" [6]

پښتو ټپه ئې هم څرک څۀ په دې ډول راکوي:

"اختر شوقدر مې رانغے

خوانبې مې مړه ده سخر مې نۀ کوي دودونه" [7]

"اختر په ټوقو ټوقو راغے

نۀ مې بنګړي شته نۀ د غاړې تعويزونه" [8]

خو که مونږه بيا په دې وخت د اختر شــوقدر دســتورې او د دې د نمانځلو طريقو ته اوګورو نو ډېر بدلون په کښې راغلے دے ــ مخکښې به په دې موقعو د وادۀ شوو جونو راوستل ډېر لازمي ګڼلے شو، دغه شـان په دغه موقعو به ميلې کېدې او خصـوصـاً په مزارونو به ماشـومان هلکان او جينکۍ راټولېدې ولې د جديديت د راتګ سره دا طريقه بدله شوه۔ ډاکټر حنيف خليل په حواله وائي:

"پخوا به د اختر او شوقدر په موقعو ماشومان په مزارونو راټولېدل او د دې دستورو سره به ميلې هم تړلې وې، خصوصاً په اختر کښې خو به په مزارونو يا د مزارونو په خواؤ شا کښې ارو مرو ميلې لګېدې، چې په کښــې به ټالونه، کلي وال د خوراک څيزونه او داســې نور ډېر څۀ موجود وو ۔هلکان به هم راتلل او جينکۍ هم۔د دوي ترمېنځه به د مينې يو تړاؤ وۀ او که چا به په کښې څوک پېژندل او که نۀ خو د مينې او اخوت اظهار به ئې ورسره کوو، خو اوس دا هر څۀ تقريباً په هره ســيمه ختم دي او که چرته دي هم نو هغه ډېر نوي او بدل دي ـــ او په ټولنه ئې نيګيټيو اثرات مرتب دي او مرتب کېږي" [9]

ډاکټر محمد زبېر حسـرت د اختر شـوقدر په دسـتورو د جديديت د اثراتو مرتب کېدو په اړه داسـې ګويا دے:

"پخوا به د اختر او شـــوقدر په موقعو په مزارونو یا نورو ځایونو د راغونډېدو ســـره ســـره مختلفي لوبې کېدې لکه پړے شـلول او داسې نور خو چې کله د جدت سـره دا رسـمونه په ختمېدو شو نو دا هر څه ختم شو ۔ په ښارونو کښې اوس دغه پخواني رسمونه ختم دي البته په ځينو کليو کښې په څهٔ نهٔ څهٔ طريقه څهٔ لږ ډېر آثار لري، خو هغسې پاتي نهٔ دي څنګه چې پخوا وو" [10]

د دې نه علاوه نورې ډېرې طريقې وې چې هغه به د اختر او شـــوقدر پورې خاص او محدودې وې خو اوس پاتي نهٔ دي، تر دې چې په دې موقعو به د خبر رســـایۍ کومې طريقې وې نو هغه هم بدلې شـــوي دي۔ ډاکټر اباسين يوسفزے وائي:

"اول به د اختر د مياشت په ليدو ډمامه غږولے شوه، دغه شان اور به لګولے شو چې خلقو به ترې اندازه کوله او دا به د خبرولو يوه لويه ذريعه او طريقه وه او خلق په دې پوهه وو بيا ورو ورو دغه دستور په ډزو بدل شـو يعنې خلقو چې به د اختر مياشـت وليده نو ډزې به ئې کولې او يا د روژې د مياشـــت ليدو دپاره به هم دغه طريقه وه، خو په نن وخت کښـــې دا طريقې ختمې دي اوس خلق نهٔ ډمامه غږوي، نهٔ اور بلوي بلکې د دې هر څهٔ خاتمه د جديدې ټېکنالوجۍ په راتګ سـره شـوې ده ـــ اوس خلق په دغه ټولو موقعو يو بل په ټيلي فون او موبائل خبروي" [11]

سنت د خوشحالۍ يوه بله موقعه وي، د ماشوم سنتول د اسلام امر دے او پښتانهٔ ئې ډېر په احترام عملي کوي، تر دې چې دا د دوي د خوشحالۍ يوه موقع وي ـ او دا د خوشحالۍ د تهوار په ډول لمانځي ـ د دې موقعې په حقله محمد جميل کاچوخېل داسې ليکي:

" زمونږ په ماشوموالي کښې دا به اسلامي فريضه هم لويه دستوره وه، ځو ځو ورځې به ترې مخکښې ډمامې شولې، د وادهٔ په شان به ورله زناؤ نوې جامې او پېزار هم تيارول۔ "[12]

د کوېدن به ځانله خيل خاص وختونه وو، چې ډاکټر بشرهٰ خاتون ورته داسې اشاره کړې ده:

" کوېدن اکثر د ماسپښين يا د ماسختون د مونځ نه پس وي، په ټاکلې شوې ورځ هلک کور کره ډنګ ډونګ وي، په ټاکلي شوي وخت ټولې ښځې او سړي د جينۍ کور کره روان شي، د کوېدني صـــندوق ډمه په ســـر کړي ســـور شـــال پرې واچوي، دوي په لار تمبل يا ډهولکے هم غږوي"[13]

د پرېکون او کوېدن په دســـتور هم د جديديت ډېر اثرات مرتب دي ـــ پخوا به زياتره د هلک مور او پلار په خپله خوښه په يوې جينۍ پسې تلل، هلک به په دې کار کښـې کار نهٔ لرلو او عموماً به په دې موقعو

د کور ساتوونکے ۇ۔ خو اوس زیاتره کوېدن وغیره د هلک او جینۍ په خوښه کېږي، دغه شان هلک په کښې د جینۍ کاله کره بوتلے هم شي۔ پخوا به جینۍ چرته په دغو موقعو د کور نه وتله او د رشته دارو یا داسې بل چا کره به تلله خو اوس په خپل کور کښې وي او زیاتره خو ئې ناوې کولے هم شي ــــ نۀ جینۍ په دې کښې څۀ غلط او بې پښتو محسوسوي او نۀ د هغه کور خلق ـــــ بلکې دواړه کورنۍ په دې خبره او کار د خوښۍ او خوشحالۍ اظهار کوي۔

لکه د نورو ښادۍ د رسمونو رواجونو غوندې په دې رسم ورواج هم د جدیدیت پاخه اثرات مرتب دي ـــ او دې رواج هم یو نوے شکل اختیار کړے دے ـــ پخوا به چې کله ماشوم د درېو څلورو کلونو شو نو نائي به ئې راوستو او سنتولو به ئې، دغه شان په دې موقعه به څه خلق هم رابللے شوي وو او د خوړک انتظام به هم شوے ۇ، خو اوس داسې نۀ کېږي ـ اوس چې ماشوم پېدا شي نو عموماً ئې سمدستي یا څو ورځې پس په هسپتال کښې د سرجن په ذریعه سنتوي او قدرې یو عام اسلامي روایت په ځائې کول وي ـ نۀ خو خپلوان خبرولے شي او نۀ رابللے شي۔ اباسین یوسفزے د سنت په رسم د جدیدیت د اثراتو په حقله داسې ګویا دے:

"د هلک د سنتولو په دوران به نائي راوستے شو، ماشوم به ئې په کاڅۀ کښېنؤ او په خبرو خبرو کښې به ئې سنت کړو، اوس خو په دریمه ورځ د سرجن په لاس سنتولے شي او خبره ئې ختمه شي" [14]

پرېکون او کوېدن به نورې د خوشحالۍ او ښادۍ موقعې وې ـــ پرېکون ته دعائې خبر هم وائي، د هلک مور او پلار به د یوې جینۍ په تپوس لاړه او چې کله به ئې خبره اومنلے شوه دعا به ئې وکړه او جینۍ به د هلک په نوم شوه۔ بیا به وروسته د جینۍ او هلک ترمېنځه کوېدن کېدۀ۔ د هلک د کوېدن به جدا طریقه وه او د جینۍ د کوېدن جدا۔ محمد جمیل کاچوخېل دې ضمن کښې داسې لیکي:

"د ښځو به دوه درې ورځې کوېژدن وه ـــــ یو وار به د جینۍ کره تلل او یو ځل به د هلک کره راتلل وو۔ چې د جینۍ کره به په اول ځل لاړل د خوږو پئیو شربت به ئې ورکړو، دې ته به ئې "ګوټ" وئیلو ـــ اوس خو د ګوټ نه ګوټ خان جوړ شوے دے ـــ د سړو به یوه شپه کوئېژدن وه، په دې کښې به زیات مشران وو، صرف د خپل کور یو څو هلکان به وو، سړو له به ئې هم اول ګوټ ورکولو ـــ هر سړي به د خپل وس مطابق پنځه، لس روپۍ د ګوټ په ګلاس کښې اچولې" [15]

وادۀ یوه بله د خوشحالۍ لویه موقع وي ـــ او د دې موقعې نمانځلو په حقله هم پښتانۀ خپله خاصه طور طریقه لري۔ خو څه رنګ چې د ملاکنډ ډویژن د پښتنو د ښادۍ په نورو رسمونو رواجونو جدیدیت خپل اثرات عملي کړي دي دغه شان ئې د وادۀ په رسم هم اثرات لیدے شي۔ پخوا به د وادۀ طور طریقه یو شان وه

خو اوس په ضلع ملاکنډ کښې د واده د دستورې په نمانځلو کښې د مخکښې به نسبت ډېر جدت او نوے والے راغلے دے۔ او نۀ یوائې دغه نوے والے د دستورې په نمانځلو کښې راغلے دے بلکې په دې موقعو په پوشاک کښې هم بدلون راغلے دے:

"په وادۀ هم د جدیدیت ډېر لوے اثرات دي، پخوا به د وادۀ زلمے نۀ ؤ چرته په لوړه به ناست ؤ او کله کله خو به د حیا له کبله په کلونو کلونو کور ته نۀ راتلو، دغه شان میاشت مخکښې به په کور کښې پټیله غرېدله خو اوس نۀ خو د وادۀ زلمے پټېږي، ښۀ ځان ئې جوړ کړے وي او مشرانو سره ناست وي یا باقاعده کار کوي خو د واده په موقع حاضر وي ــــ دغه شان سرود که هم غرېږي نو د وادۀ نه ورځ دوه وړاندې ایله چرته شروع کېږي، دغه رنګ خلق دې ته جوړ شوي دي چې دا هر څۀ دې په یوه ورځ ختم شي، که مونږ د ناوې د لباس خبره کوو نو هم په کښې د مخکښې په نسبت ډېر بدلون راغلے دے، پخوا به د ناوې دپاره سور لباس او سور پېزار خاص وۀ خو د عیسایانو د اثراتو په وجه اوس دا هر طریقه هم بدله شوې ده"[16]

د ناوې لباس به پخوا د شنګائې ؤ، دا د کپړو یو نوم وۀ، دغه شان چې کوم کالې پترې به ئې ورله جوړول نو په هغو کښې به باهو، چارګل، مېخکے وغېره وو، څنګه چې ئې نور څیزونه جدید شوي دي دغه شان دا هم اوس نشته۔ او د دې ځائې نوو نوو څیزونو نیولے دے۔[17] د ناوې د لرغونو کالو پترو څرک پښتو ټپه داسې راکوي:

"چارګل په لوړه پوزه خوند کړي
لکه په لوړ چنار کښې واچوې ټالونه"[18]

"پېزوان مې خړو اوبو یوړو
په غم شریکه یاره نیسه ګودرونه"[19]

"ستا په نتکۍ کښې شېطان ناست دے
هره شپه مې ستا خولګۍ ته لمسوینه"[20]

"د مېخکې په ډنډر سوره
ماته په زوره نعرې مۀ وهه درځمه"[21]

د وادۀ سره تړلے یو رسم د ډولۍ هم ؤ چې د ټولو پښتنو په سیمه عموماً او د ضلع ملاکنډ په خاوره خصوصاً عام ؤ، جینۍ به ئې په ډولۍ کښې وړله ـــ په دغه ډولۍ کښې به یو اځې جینۍ نۀ وه بلکې د هغې ملګرې به هم وې او که ملګرې به نۀ وې نو کاڼي به ئې ورســره په دې وجه اېښــودل چې د جینۍ د وزن پته نۀ لګي- خو اوس دغه طریقه هم ختمه ده-

"پخوا به ناوې په ډولۍ کښــې وړلے شــوه، وړونکېو ته به د دې باقاعده پیســې ورکړے کېدې، ناوې سره به ئې ملګرې هم وې ـــ او دا به لازمي دستور ؤ، خو اوس دغه رواج ختم شــوے دے، اوس د هر کور دروازې ته ګاډے تلے شـــي او که څۀ ځائې پیاده تګ وي نو عموماً ناوې په خپله باندې ځي "[22]

کله چې به ناوې راوړلے شوه نو خلق به ورته راټولېدل خصوصاً ماشومان خو به د دروازې د خواؤشا نه هډو تلل نۀ ـــ خو چې کله به ډولۍ کمرې ته دننه کېده یا کور ته به راورسېده نو د کوټې د سـر نه به مېوه شیندلے شوه، واړه او اکثر خلق به په دې شو او ناوې به ښۀ په قلاره دننه کړے شوه- [23] اوس د وادۀ په دوران کښې دا رسمونه مکمل ختم دي- او تقریباً په هر ځائې کښې نۀ کېږي-

د خوشحالۍ د دغه موقعو سره ډزې ډومبقې هم لازم ملزوم څیز ؤ ـــ او د وادۀ په موقع به د واده زلمے په پالنګ هم خېژولے شو، د هلک ملګري به راغونډ شو زلمے به ئې په کټ وخېژؤ او دغه کټ به ئې بیا په هوا کښې اوچتؤ رالګؤ، اکثر به په کښې د هلک څه ځایونه مات هم شو ـــ او نور به هم خوګ شو ـــ اوس زلمے په پالنګ نۀ شي خېژولے خو اکثر ترې ملګري کېږي شلوي او رنګونه پرې اړوي-

دا خو د پښتنو د ښادۍ خاص دستورونه دي چې د تقریباً ټول پښتانۀ ورسره اشنا دي او دا رسمونه رواجونه د پښتنو په غېرو علاقو د پېژندګلو سبب جوړ دي ـــ د دې نه علاوه په ضلع ملاکنډ کښې به اکثر په حجرو کښې مېلسونه کېدل، دغه شان د اشر غوبل په دوران کښې به هم شور ماشور جوړ ؤ ـــ او دا هم د خوشحالۍ موقعې ګڼلے شي- دغه موقعې به داسې وې چې هر څوک به په کښې خوشحاله وو او د دې موقعو نه د عملي ژوند دپاره ډېره فائده پورته کېدۀ ـــ که د حجرو په مېلسونو خبره کوو نو د دې ډېرې فائدې وې، تر ټولو وړاندې خو دا د پښتنو ترمېنځه د اخوت او مینې د اظهار یوه ذریعه او لاره وه، او خلق د یو بل سـره په دې پېوست وو ـــ دغه شان د اشر او غوبل په دوران کښې به هم سندرې او ټپې وئیلے شوې ـــ خو کله چې جدید رجحانات څنګه په نور ژوند کښې مستعمل شو نو دغه شان دا اړخ ترې هم بچ پاتې نۀ شو ـــ او په دې ئې هم اثرات قائم کړه او ورو ورو ئې دا هر څۀ له مېنځه اوویستل-

"پخوا به په حجرو کښې مېلسونه کېدل، دې ته به مشران او کشران یو شان راټول وو، چا به څۀ بد نۀ محسوسول او په دې ناسته کښې به یو خوند ؤ ، دغه شان چې کله به اشر غوبل ؤ ،

نو زلمو به ټیپي او بدلې هم وئیلې، د دې سره به دوي مشغول هم وو کار به پرې هم نهٔ بوج کېدو ـــ دغه شان کله چې په حجره کښې مېلسونه وو نو زلمي پرې مشغول وو، خو چې کله جدیده ټېکنالوجي راغله نو نهٔ ئې صرف دا خلق تقسیم کړل، بلکې د دوي ترمېنځه ئې فاصلې هم زیاتې کړې، د دوي نه ئې مینه واخسته او د ذهني تکاوټ سره سره ئې په نشو تماشو سر کړل" [24]

د پورته حوالې نه خبره واضحه شوه چې د ښادۍ په نورو دستورونو د جدیدیت د اثراتو نه علاوه په مېلسونو وغېره هم اثرات شوي دي ـــ او دا هر څهٔ ئې د ضلع ملاکنډ د پښتنو نه اخستي دي۔

نورې هم د ښادۍ ډېرې موقعې دي او کېدے شي خو په دغو ټولو د جدیدیت اثرات مرتب شوي دي، یا خو په کښې مکمل بدلون راغلے دے، یا ئې شکل ورک شوے دے او یا ئې یو نوے طرز خپل کړے دے، خو د روایت سره سم نهٔ دي راروان ـــ د ضلع ملاکنډ د دودونو دستورونو او خصوصاً د ښادۍ په دستورونو د جدیدیت د اثراتو په اړه د مطالعې نه پس مونږ دې نتیجې ته رسو چې واقعي په دغه ټولو دستورونو د جدیدت اثرات مرتب دي۔ او په دغه ټولو کښې بدلون راغلے دے

حوالې

[1] https://www.saqinamapk.com/2022/02/Jadeediat-kia-hai.html
[2] https://www.rekhtadictionary.com/meaning-of-jadiidiyat?lang=ur
[3] اباسین یوسفزے، الوت، شعیب سنز مینګوره سوات، ۲۰۱۳، مخ ۴۵
[4] اقبال شاکر، ریدي رنګې اوبهٔ (ځلورم چاپ)، عامر پرنټ اینډ پبلشر پېښور، ۲۰۱۸ء، مخ ۱۲۸
[5] علي خېل دریاب، ډاکټر، سندریز الهام، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، ۲۰۲۰ء، مخ ۴۸
[6] یوسفزے، فرهاد وسیم، فولکلوري ادب، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، نومبر ۲۰۱۸ء، مخ ۲۲۸
[7] طائر، محمد نواز، ټپه او ژوند، جدون پرنټنګ پریس پېښور، ۲۰۱۲ء، مخ ۳۲۱
[8] هم دغه اثر، مخ ۳۲۲
[9] حنیف خلیل، ډاکټر، د وادهٔ ښادۍ دستور او جدید رجحانات مشموله "وحدت" ورځپانه، پېښور، ۲۳/۰۲/۲۰۱۹
[10] د ډاکټر محمد زبیر حسرت سره مخ په مخ مرکه، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون، ۲۰/۰۳/۲۰۲۳ ، وخت ۳:۰۲ ماسپښین
[11] د ډاکټر اباسین یوسفزي سره مخ په مخ مرکه، بورډ پېښور ښار، ۲۰/۰۳/۲۰۲۳ ، وخت ۳:۵۳ ماسپښین
[12] کاچوخېل، محمد جمیل، اوس دا یادونه افسانې ښکاري، عامر پرنټ اینډ پبلشر پېښور، ستمبر ۲۰۲۰ء، مخ ۳۵۱،
[13] بشره خاتون، ډاکټر، د صوابۍ تاریخ، کلچر او فولکلور، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون، مخونه ۲۲۲، ۲۲۳
[14] د ډاکټر اباسین یوسفزي سره مخ په مخ مرکه، بورډ پېښور ښار، ۲۰/۰۳/۲۰۲۳ ، وخت ۳:۵۳ ماسپښین
[15] کاچوخېل، محمد جمیل، اوس دا یادونه افسانې ښکاري، عامر پرنټ اینډ پبلشر پېښور، ستمبر ۲۰۲۰ء، مخ ۳۲۰
[16] د ډاکټر اباسین یوسفزي سره مخ په مخ مرکه، بورډ پېښور ښار، ۲۰/۰۳/۲۰۲۳ ، وخت ۳:۵۳ ماسپښین

[17] د ډاکټر فقير محمد سره مخ په مخ مرکه، پښتو څانګه باچاخان پوهنتون، ۲۰/۰۳/۲۰۲۳ ، وخت ۱۱:۰۰ سحر

[18] هم دغه اثر، هم دغه مخ

[19] هم دغه اثر، مخ ۴۴۱

[20] هم دغه اثر، مخ ۴۴۱

[21] هم دغه اثر، مخ ۴۴۲

[22] د ډاکټر اباسين يوسفزي سره مخ په مخ مرکه، بورډ پېښور ښار، ۲۰/۰۳/۲۰۲۳ ، وخت ۳:۵۳ ماسپښين

[23] هم دغه مخ په مخ مرکه

[24] هم دغه مخ په مخ مرکه

Pukhtunkhwa Journal